د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــج او اوقافـــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَینیو د ارشاد او انسجام لوی ریاست**

دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد

دمرکز او ولایاتو ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.

**٤/ جمادی الأولی/١۴۴٨ هـ، ق مطابق ٢۴ / میزان /١۴٠۵هـ، ش**

# په راکړه او ورکړه کې د رښتینولۍ او انصاف اهمیت، او د دوکې کولو او د مبیعې د عیب پټولو ناوړه پایلې.

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لانبی بعده وعلى آله وصحبه ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين.

أما بعد: فقد قال الله سبحانه وتعالى:(وَالسَّمَاءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيزَانَ * أَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيزَانِ * وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ * وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا لِلْأَنَامِ * فِيهَا فَاكِهَةٌ وَالنَّخْلُ ذَاتُ الْأَكْمَامِ * وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ * فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ).[١]

**درنو سوداګرو او ګرانو حاضرینو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

د اسلام سپیڅلی دین له مسلمانانو غواړي؛ چې داسې سپیڅلې ټولنه رامنځ ته کړي چې د ژوند هره برخه یې په صدق او رښتیاوو ولاړه وي او د اسلامي ټولنې هر یو وګړی باید په ژوند کې رښتنی، صادق او امانت دار شخص وي او اسلامي ټولنه له هر ډول دوکې ، فریب او غدارۍ څخه پاکه ټولنه وي، په ځانګړې توګه په راکړه او ورکړه کې باید د ټولنې ټول افراد ځانونه له دوکې او د مبیعې د عیب پټولو څخه ځانونه وساتي.

اســلام یوازې د جومـات، لمانځه او روژې دین نه دی؛ بلکې د بازار، تجارت، کورنۍ، ټولنې او د ژوند د ټولو معاملو لپاره هم لارښوونې لري. یو مسلمان باید په جومات کې هم د الله تعالی بنده وي او په بازار کې هم د هغه د حکمونو پابند وي.

راکړه ورکړه د انسانانو د ژوند یوه مهمه اړتیا ده. خلک هره ورځ خوراکي توکي، جامې، درمل، کورونه، ځمکې، موټرونه او نور شیان اخلي او پلوري. د دغو معاملو په ترځ کې د خلکو مالونه، حقوق او ګټې له یو بل سره تړل کېږي. که راکړه او ورکړه پر رښـتینولۍ او امانتدارۍ ولاړه وي، د خلکو ترمنځ باور، مینه او برکت رامنځته کېږي؛ خو که راکړه او ورکړه پر دروغو، خیانت، فریب، احتکار او دوکې ولاړه وي، نو د خلکو حقوق تر پښو لاندې کېږي، بېوزلي او دښمني زیاتېږي او د حلال رزق برکت له منځه ځي.

[١] -الرحمن: (٧-١٣)

الله جل جلاله مسلمانانو ته د رښتینولۍ او انصاف امر کړی دی او فرمایلي يې دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ).(۲)

ترجمه: ای مؤمنانو!له الله نه وډار شئ او د رښتینو مل اوسئ.

په دې آیت کې الله تعالی مؤمنانو ته امر کوي چې تقوا خپله کړي او له رښتینو خلکو سره ملګرتیا او همغږي ولري. سوداګر هم د دې امر مخاطب دي؛ هغوی باید په خپلو خبرو، ژمنو، بیو، د مال په کیفیت، د پورونو په حساب او د معاملې په ټولو اړخونو کې رښتینولي اختیار کړي.

په یو بل مبارک آیت کې الله تعالی د رښتینو خلکو صفت کړی دی.(مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ).(۳)

ترجمه: په مؤمنانو کې داسې سړي شته چې له الله سره یې خپله وعده پوره کړه.

رښتینولي یوازې دا نه ده چې انسان په خبرو کې دروغ ونه وايي؛ بلکې دا هم ده چې د خلکو حقونه پوره اداء کړي، د مبیعې عیب پټ نه کړي، تل له انصاف څخه کار واخلي ، په وعده وفا وکړي او د بل انسان له ناپوهۍ څخه د ناروا ګټې اخیستلو هڅه ونه کړي.

د مسلمان سوداګر رښتینولي هغه وخت څرګندېږي چې د دروغو له لارې د ګټې ترلاسه کولو فرصت ولري، خو د الله تعالی له ویرې له دروغو ډډه وکړي. الله جل جلاله په انصاف امر کړی دی او د انصاف کوونکو سره مینه لري.الله جل جلاله فرمایلي دي:( وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ).(٤)

ترجمه: او انصاف وکړئ بې له شکه چې الله انصاف کوونکي خوښوي.

همدا راز درواغ ویل او په درواغو قسمونه خوړل او خلکو ته دوکه ورکول د شیطان کار دی؛ لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:( وَقَاسَمَهُمَا إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ النَّاصِحِينَ * فَدَلَّاهُمَا بِغُرُورٍ).(٥)

ترجمه: او قسم یې ورته وکړ چې زه ستاسې رښتینی خیر غوښتونکی یم. نو په چل او دوکه یې له هغه ځایه راښکته کړل الله جل جلاله په تول او وزن کې په انصاف کولو امر کړی دی او فرمایلي یې دي:( أَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيزَانِ * وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيزَانَ).(٦)

ترجمه: تر څو په تله کې له اندازې وانه وړئ. تول په انصاف کړئ او ډنډې پکې مه وهئ.

همدارنګه الله جل جلاله مسلمانانو ته امر کړی دی چې پوره ورکوئ پیمانه او تول او دخلکو مال مه کموئ. الله تعالی فرمایي: (وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا).(۷)

ترجمه: په پیمانه او تله کې انصاف وکړئ. موږ پر هیچا د هغه له توانه پورته بار نه ږدو.

---

۲ -التوبة:(۱۱۹)

۳-الأحزاب:(۲۳)

٤ -الحجرات:(۹)

٥-الاعراف: ۲۱_۲۲)

٦ -الرحمن: (۸-۹)

۷ -[الأنعام:(۱۵۲)

الله تعالی په دې آیت کې د خلکو د حقونو د ساتنې، د تول او پیمانې د پوره کولو او د عدالت د مراعاتولو امر کړی دی.

په سوداګرۍ کې انصاف دا دی چې سوداګر د پېرودونکي حق ته درناوی وکړي، په وزن او اندازه کې کمی ونه کړي، د مال حقیقي کیفیت بیان کړي او د معاملې هغه مهم معلومات پټ نه کړي چې د پېرودونکي پر پرېکړه اغېز لري.

الله جل جلاله د هغه چا لپاره د هلاکت دعاء کړې ده، چې څوک د خلکو په مالونو کې کمی کوي او ددې لارې څخه د خلکو مالونه په ناحقه طریقو خوري. الله تعالی د کمفروشان په اړه فرمايي:( وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ * الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ * وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ).(٨)

ترجمه:هلاکت او تباهي ده ډنډې وهونکو ته. هغوی چې له خلکو څه راپیمانه کوي نو پوره یې ترې اخلي. او چې نورو ته پیمانه ورکوي یا څه ورتلي نو کمی پکې کوي.

دا آیتونه یوازې د پخوانیو کمفروشانو په اړه نه دي؛ بلکې د هر هغه چا لپاره د عبرت پیغام دی چې د بل انسان په حق کې کمی کوي.

الله تعالی مسلمانانو ته امر کړی دی چې د خلکو مالونه مه کموئ.الله تعالی فرمايي:( وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ).(٩)

ژباړه: او خلکو ته د هغوی په شیانو کې تاوان مه اړوئ. نو مسلمان باید د خپل دوکان، ترازو، پیمانې، حساب او معاملې په هر اړخ کې انصاف مراعات کړي.که په تېرو معاملو کې یې په قصدي ډول د خلکو حقونه خوړلي وي په راکړه او ورکړه کې د مبیعې عیب پټول او دوکه کول د خلکو مالونو په باطله طریقه خوړل دي او الله تعالی په باطلو لارو د خلکو د مالونو له خوړلو څخه منع کړې ده. الله تعالی فرمايلي دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ).(١٠)

ترجمه: ای مؤمنانو! مالونه مو په خپلو مینځونو کې په ناروا توګه مه خورئ

الله جل جلاله دوکه د منافقانو له خصلتونو څخه شمیرلی دی او فرمايلي یې دي:(يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ).١١

ژباړه: بې شکه چې منافقانو له الله سره د ټګۍ معامله راخیستې او الله پاک هم د هغوی د ټګۍ سزا ورکوي

په نبوي احادیثو کې د رښتینولۍ صفت شوی دی او د دروغو مذمت بیان شوی په یو حدیث شریف کې راځي. له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:«إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ، وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يَكُونَ صِدِّيقًا، وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ، وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ كَذَّابًا».(١٢)

ژباړه: بیشکه رښتینولي نېکۍ ته لارښوونه کوي، او نېکي جنت ته لارښوونه کوي. انسان پرله پسې رښتیا وايي؛ آن تر دې چې د الله تعالی په نزد د ډېر رښتیني انسان په توګه ولیکل شي. او بیشکه دروغ ګناهونو ته لارښوونه کوي، او ګناهونه د جهنم اور ته لارښوونه کوي. انسان پرله پسې دروغ وايي؛ آن تر دې چې د الله تعالی په نزد دروغجن ولیکل شي.

---

٨ - المطففين:(١-٣)

٩ - الأعراف:(٨٥)

١٠ -النساء:(٢٩)

١١ -النساء:( ١٤٢)

١٢- صحيح البخاري (٨/ ٢٥)، صحيح مسلم (٤/ ٢٠١٢)

د دې حدیث پیغام دا دی چې رښتینولي یوازې د یوې معاملې د سمون وسیله نه ده؛ بلکې د انسان د شخصیت جوړولو او د جنت د لارې یوه مهمه برخه ده.

هغه سوداګر چې هره ورځ د مال په کیفیت، وزن، اندازه او بیه کې رښتیا وایي، د صداقت خوی پیاوړی کوي. خو څوک چې د لږې ګټې لپاره دروغ وایي، په تدریجي ډول دروغ یې عادت وګرځي او د نورو ګناهونو دروازې ورته پرانیستل کیږي.

له همدې امله، مسلمان سوداګر باید د لږې ګټې د ترلاسه کولو لپاره د خپل دین، وجدان او آخرت تاوان ونه مني.

په راکړه او ورکړه کې رښتینولي د برکت سبب ګرځي او په راکړه او ورکړه کې د مبیعې عیب پټول برکت له منځه وړي.رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا، فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُورِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا، وَإِنْ كَذَبَا وَكَتَمَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا».(۱۳)

ژباړه: پېرودونکی او پلورونکی تر هغه وخته د معاملې د منلو یا فسـخ کولو اختیار لري چې له یو بل څخه نه وي جلا شـوي( جداوالی په اقوالو سره) ؛ نو که دواړه رښتیا ووایي او د مال حقیقت څرګند کړي، د دوی په معامله کې برکت اچول کیږي، او که درواغ ووایي او حقیقت پټ کړي، د دوی د معاملې برکت له منځه وړل کیږي.

په دې حدیث کې دراکړې او ورکړې د برکت دوه مهم لاملونه بیان شوي دي:

۱-رښتینولي: د مال په اړه د حقیقت بیانول او له دروغو ډډه کول.

۲-وضاحت او امانتداري: د مال هغه عیبونه، ستونزې او مهم معلومات څرګندول چې پېرودونکی یې باید ورباندې خبر وي.

او د برکت د له منځه تلو دوه مهم لاملونه دا دي:

۱-دروغ ویل.

۲-د مال عیب او حقیقت پټول.

دلته باید یوه مهمه خبره په یاد ولرو: برکت یوازې د پیسو ډېرښت ته نه ویل کیږي.

کله ناکله د انسـان مال ډېر وي، خو په ژوند کې یې سـکون نه وي، کورنۍ یې له ستونزو سره مخ وي او د مال د مصرف او ساتنې په اړه اندېښمن وي. حلال عاید، د زړه ډاډ، د خلکو باور او د الله تعالی رضایت د برکت مهمې نښې دي.

په اسـلامي شریعت کې د هغه تاجر فضـیلت بیان شوی دی چې تاجر رښتینی وي او امانتداره وي .رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ».(۱٤)

ژباړه: رښتینی او امانتدار سوداګر به له پیغمبرانو، صدیقانو او شهیدانو سره وي.

دا فضـیلت د هغه سوداګر لپاره دی چې په رښتیا او امانتدارۍ کې ثابت قدم وي، د خلکو حقونه تر پښو نه لاندې کوي او د حرامو لارو څخه ځان ساتي.

اسلام خپلو لارویانو ته سپارښتنه کړې ده چې کله څوک کومه مبیعه خرڅوي باید د هغې عیب مشتري ته بیان کړي.

---

۱۳ - صحیح البخاري (۳/ ۵۸)، صحیح مسلم (۳/ ۱۱٦٤)

۱٤ - سنن الترمذي ت شاکر (۳/ ۵۰۷) وقال: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (۳/ ۲۷۲)

په حديث شريف کې راځي.عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ:«الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، وَلَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ بَاعَ مِنْ أَخِيهِ بَيْعًا فِيهِ عَيْبٌ، إِلَّا بَيَّنَهُ لَهُ».(١٥)

ژباړه: د حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه روایت دی ، هغه وايي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوريدلي دي چې داسې يې وفرمايل: مسلمان د مسلمان ورور دی او جاېز نه دي مسلمان ته چې خرڅ کړي په خپل ورور باندې مبیعه چې په هغې کې عيب وي ، مگر داچې بیان کړي هغه ته د هغه عیب.

په راکړه او ورکړه کې درواغ ويل ، دوکه کول او په مبیعه کې عيب پټول لويه گناه او حرام کار دی او په دې باره کې سخت وعید راغلی دی. په يو حديث شريف کې راځي نبي علیه السلام فرمايي دوکه کوونکی زمونږ له ډلې نه دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مَرَّ عَلَى صُبْرَةِ طَعَامٍ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلاً فَقَالَ « مَا هَذَا يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ ». قَالَ أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ « أَفَلاَ جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ كَىْ يَرَاهُ النَّاسُ مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنِّى».(١٦)

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وايي چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم تیر شو په ډيرې د خوراکي موادو ؛ نو داخل یې کړو په منځ د ډيري کې لاس مبارک خپل ، نو ورسیده لاس مبارک دده ته لوندوالی، وه فرمایل (خرڅوونکي ته) : دا څه دي ای د خوراکي موادو مالکه؟ هغه ووېل: ديته آسمان (باران) رسيدلی دی ای دالله رسوله! نبي علیه السلام ورته ووېل: نو ولې دې نه اچول دا لوند مال د ټول مال په سر باندې ترڅو خلک يې ووينې ، څوک چې دوکه وکړي، نه دی هغه زما له ډلې څخه.

(وَقَالَ عُقْبَةُ بْنُ عَامِرٍ لَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يَبِيعُ سِلْعَةً يَعْلَمُ أَنَّ بِهَا دَاءً إِلَّا أَخْبَرَهُ).(١٧)

ژباړه: عقبه بن عامر رضي الله عنه فرمايي: جائز نه دي يو چا ته چې خرڅوي خپله مبیعه او پوهیږي چې په دې کې کوم مرض دی مگر داچې خبر کړي ورباندې مشتري(اخیستونکی).

دا حديث د درغلۍ او دوکې په وړاندې خورا جدي خبرداری دی. د «فَلَيْسَ مِنَّا» معنا دا نه ده چې هر دوکه‌کوونکی له اسلامه وځي؛ بلکې معنا يې دا ده چې دا عمل د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لارښوونو او د مسلمان له شايسته اخلاقو سره مخالف دی.

په حديث شريف کې راځي. عن أبي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:« الْحَلِفُ مُنَفِّقَةٌ لِلسِّلْعَةِ مُمْحِقَةٌ لِلْبَرَكَةِ».(١٨)

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې ماد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوريده چې داسې يې وفرمایل: قسم خوړل رواجوونکی د مبيعې دی او له منځه وړونکی دی برکت لره .

په يو بل حديث شريف کې راځي: عن أبي قتادة - رضي الله عنه : أنَّه سمعَ رسولَ اللهِ - صلى الله عليه وسلم - يقولُ : « إِيَّاكُمْ وَكَثْرَةَ الحَلِفِ في البَيْعِ ، فَإِنَّهُ يُنَفِّقُ ثُمَّ يَمْحَقُ » .(١٩)

---

[١٥] - سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (٣/ ٣٥٦)

[١٦] - صحيح مسلم (١/ ٦٩)

[١٧] - صحيح البخاري ت (٥/ ٢٥٣)

[١٨] - صحيح البخاري ت (٥/ ٢٦٨)، صحيح مسلم (٥/ ٥٦)

[١٩] - صحيح مسلم (٥/ ٥٦)

ژباړه: د ابو قتاده رضي الله عنه څخه روایت دی هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې فرمایل یې: ځانونه وساتئ له زیاتو قسمونو څخه په خرڅولو کې ځکه قسم خو رواجوي (مبیعې) لره خو بیا ور څخه له منځه وړي (برکت).

ځینې وخت انسان تجارت کوي او خرڅول کوي او قسمونه خوري خو داسې مصیبت وربانديې راشي چې یاخو د تجارت مال له منځه لاړ شي او یایې ګټلی پیسې له منځه لاړې شي.

په یو بل حدیث شریف کې راځي.عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ» قَالَ: فَقَرَأَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَ مِرَارًا، قَالَ أَبُو ذَرٍّ: خَابُوا وَخَسِرُوا، مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «الْمُسْبِلُ، وَالْمَنَّانُ، وَالْمُنَفِّقُ سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ».[٢٠]

ژباړه: د ابو ذر رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه د نبي علیه السلام څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: درې کسان دي چې خبرې به ورسره ونکړي الله تعالی د قیامت په ورځ او نه به د رحمت په نظر ورته وګوري او نه به ددوی تزکیه وکړي او ددوی لپاره شته عذاب دردناک. راوي وایي بیا ولوست رسول الله صلی الله علیه وسلم دا درې ځله. ابو ذر رضي الله عنه وایې محرومه شول له خیر څخه او تاوانیان شول، (ابوذر رضي الله عنه وویل) دا څوک دي ای دالله رسوله؟ نبي علیه السلام وفرمایل : د پیڅو او څادر زوړنده وونکی دی(له کبر څخه) او احسان اچوونکی دی او رواجوونکی د خپلې مبیعې دی په درواغو قسمونو سره.

## په راکړه او ورکړه کې د دوکې کولو او د مبیعې عیب پټولو بیلګې:

په افغانستان کې د راکړې ورکړې بازارونو، وارداتي توکو، صرافیو، موبایلي پیسو، انلاین خرڅلاو، موټرو، ځمکو، ساختماني موادو او عمده‌فروشۍ په معاملو کې د فریب، دوکې او د مبیعې د عیب پټولو بیلګې په لاندې ډول دي:

۱-د ورځني بازار او وارداتي توکو فریبونه؛ لکه د وارداتي مال د کیفیت او اصلیت په اړه دوکه .د چین، پاکستان، ایران یا نورو هېوادونو ارزانه یا تقلبي مال د مشهور برانډ، اصلي تولید یا ممتاز کیفیت په نوم پلورل؛ یا د دویم لاس مال د نوي مال په توګه وړاندې کول.

۲. د خوراکي توکو او درملو د نېټې او ترکیب په اړه فریب، لکه د ختمېدو نېټې بدلول، د تولید نېټې پټول، د خرابو توکو بیا بسته‌بندي کول، یا د درملو او خوراکي موادو د ترکیب په اړه ناسم معلومات ورکول.

۳. په وزن او پیمانه کې پټ کموالی؛ لکه د یوې بورۍ اوړو، وریجو، بوره، غوړو یا نورو توکو د وزن پوره ښودل حال داچې د هغې مقدار کم وي؛ د تلې خرابول؛ یا د خالص وزن پر ځای د لوښي وزن هم د مال په وزن کې حسابول.

۴. د مال د درجې او ګودامي کیفیت پټول؛ لکه: په عمده فروشۍ کې د لومړۍ درجې مال او دویمې درجې مال ګډول، د زړو توکو له نویو سره ګډول، یا د نمونې په ښودلو د لوړ کیفیت مال وعده کول او بیا ټیټ کیفیت مال مشتري ته سپارل.

۵-د ځمکو، کورونو او ساختماني معاملاتو دوکې، لکه: د یوه ملکیت څو کسانو ته پلورل ، پلورونکی یو کور یا ځمکه لومړي کس ته پلوري، خو له هغه څخه د پخوانۍ معاملې په پټولو سره یې بیا دویم کس ته هم پلوري، د جعلي قبالې، وکالت‌خط یا معاملاتي سټې کارول، د ملکیت جعلي سند جوړول ، په سند کې د قیمت او شرایطو ناسم ثبتول، د هغه ودانۍ خرڅول چې موجود نه وي یا جوړه شوي نه وي، په نامه د موجودي او جوړې شوي ودانۍ.

---

[٢٠] - صحیح مسلم (١٠٢/١)

٦- د معاملاتو د لاربنوونې د دفتر له خوا د قیمت او کمېشن په اړه دوکه ، لکه: د ملکیت اصلي قیمت پټول، د دواړو لوریو له ناپوهۍ څخه ګټه اخیستل، د توافق خلاف اضافي کمېشن اخیستل، یا د معاملې په سند کې د واقعي قیمت پر ځای بل قیمت لیکل.

٧-د موټرو او ماشین‌آلاتو په راکړه او ورکړه کې دوکه او عیب پټول؛ لکه یو کس له جاپان څخه وارد شوی موټر اخلي. پلورونکی پوهېږي چې موټر مخکې سخت ټکر شوی او د خوندیتوب مهم سیستمونه یې خراب شوي دي؛ خو د موټر عیب پټوي.
٨-په صرافۍ، حواله او ډیجیټلي پیسو کې دوکې، لکه: د اسعارو د تبادلې په نرخ کې دوکه، صراف د یوه نرخ اعلان کوي، خو له مشتری سره د معاملې پر مهال په پټه بل نرخ تطبیقوي، جعلي پیسې د اصلي پیسو په توګه ورکول، یا د جعلي پیسو د پېژندلو په اړه د بل لوري غولول، د حوالې استوونکی وایي چې پیسې یې لېږلې دي، خو په حقیقت کې یې نه وي لیږلي؛ یا د لیږلو د رسید په اړه جعلي سند وړاندې کوي.

٩-په کرنیزو او تولیدي توکو کې دوکې ؛لکه:د غنمو او نورو حاصلاتو د کیفیت پټول، لوند غنم د وچو غنمو په نوم پلورل، د خرابو دانو ګډول، یا د نمونې له ښودل شوي کیفیت سره د سپارل شوي مال توپیر.

١٠-د تېلو او سون‌توکو په کیفیت او اندازه کې دوکه ؛لکه:د تیلو په کیفیت کې د توافق خلاف مواد ګډول، د لیټر یا ټانکر اندازه کمول، یا د معیار خلاف تېل د معیاري محصول په نوم وړاندې کول.

١١-په انلاین خرڅلاو او ټولنیزو شبکو کې نوي فریبونه لکه: په فیسبوک یا نورو شبکو کې د داسې مال اعلانول چې پلورونکی یې اصلاً نه لري، یوازې د مشتریانو د پیسو اخیستلو لپاره، د جعلي مشتریانو او جعلي نظرونو په وسیله د مال شهرت جوړول، د تخفیف جعلي اعلانونه او د پخواني قیمت ناسم ښودل، د مشترۍ د فرمایش خلاف بل مال هغه ته لېږل او د بېرته ستنولو د شرطونو پټول.

١١-په پور، قسطي خرڅلاو او سوداګریز شراکت کې دوکې؛ لکه: د نغدو او قسطي قیمتونو ترمنځ د توافق خلاف توپیر رامنځته کول، د قسطي خرڅلاو په قرارداد کې د قیمت، قسطونو یا د ځنډ د شرطونو پټول، د شریک د پانګې، لګښتونو یا ګټې په اړه ناسم حساب وړاندې کول، د تاوان په اړه دروغ ویل، څو له شریک څخه د هغه د حق خلاف پیسې واخیستل شي، په مضاربت یا شراکت کې د حقیقي ګټې پر ځای د جعلي حسابونو وړاندې کول، په مرابحه کې د اصلي لګښت، د مال د اخیستلو، د ملکیت او قبض په اړه دروغ ویل.

## په راکړه او ورکړه کې ددوکې کولو او د مبیعې د عیب پټولو ناوړه پایلې.

په اسلامي فقه او تجارتي اخلاقو کې، په مبیعه (هغه مال چې خرڅېږي) کې د عیب پټول یو له سترو ګناهونو او جرمونو څخه شمېرل کېږي چې په ټولنه او معاملو کې ډېرې ناوړه پایلې لري. په راکړه او ورکړه کې د مبیعې د عیب پټولو حکمونه په فقه کې د (تدلیس یا غش، نجش، کتمان العیب، غرر) تر عنوانونو لاندې بیان شوي دي؛ چې ځینې پایلې په لاندې ډول دي:

١-د راکړې او ورکړې څخه د برکت له منځه تلل: د عیب په پټولو سره که څه هم په ظاهره ګټه زیاتېږي، مګر له مال څخه برکت بیخي ختمېږي. رسول الله ﷺ فرمایلي: « فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُورِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا، وَإِنْ كَذَبَا وَكَتَمَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا». [٢١]

[٢١] - صحيح البخاري (٣/ ٥٨)، صحيح مسلم (٣/ ١١٦٤)

ژباړه: نو که دواړو رښتیا وویل او د مال عیب یې بیان کړ، د دوی په معامله کې به برکت واچول شي، او که دواړو درواغ وویل او د مبیعې او پیسو عیب یې پټ کړ، نو  د دوی د معاملې څخه پورته کړل شي برکت.

۲-په مبیعه کې عیب پټول کبیره گناه ده : په راکړه او ورکړه کې دوکه کول کبیره گناه ده. د رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا». څوک چې موږ ته دوکه راکړي، هغه له موږ څخه نه دی.

امام ابن حجر مکي رحمه الله وایې چې د حدیث دا متن څه د پاسه د لسو صحابه کرامو څخه نقل شوی دی.[٢٢]

په یو بل حدیث شریف کې راځي. عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «مَنْ بَاعَ عَيْبًا لَمْ يُبَيِّنْهُ، لَمْ يَزَلْ فِي مَقْتِ اللَّهِ، وَلَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تَلْعَنُهُ».[٢٣]

ژباړه: د حضرت واثله بن الاسقع رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چې داسې یې وفرمایل: چاچې عیب خرڅ کړ(یعنې داسې مال یې خرڅ کړ چې عیبجن ؤ) او بیان یې نکړ

تل د الله تعالی په عذاب کې وي او تل به ملائکې وربانديې لعنت وایي. د احمد په روایت کې راځي چې حضرت واثله بن الاسقع وفرمایل: (إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:« لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ يَبِيعُ شَيْئًا أَلَّا يُبَيِّنَ مَا فِيهِ، وَلَا يَحِلُّ لِمَنْ يَعْلَمُ ذَلِكَ أَلَّا يُبَيِّنَهُ».[٢٤]

ژباړه: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې داسې یې وویل: جائز نه دي هیچا ته چې یو شی خرڅ کړي او بیان نکړي مشتري ته هغه عیب چې په مبیعه کې دی او جائز نه دي هغه چاته چې په عیب باندې عالم وي او هغه نه بیانوي.

امام ابن حجر هیثمي رحمه الله فرمایي:(عَدُّ هَذَا كَبِيرَةً هُوَ ظَاهِرُ بَعْضِ مَا فِي هَذِهِ الْأَحَادِيثِ مِنْ نَفْيِ الْإِسْلَامِ عَنْهُ مَعَ كَوْنِهِ لَمْ يَزَلْ فِي مَقْتِ اللَّهِ أَوْ كَوْنِ الْمَلَائِكَةِ تَلْعَنُهُ).[٢٥]
ژباړه: دا ( دمبیعې عیب نه بیانول) کبیره گناه گرځول شوی ده او دا داحادیثو له ظاهر څخه معلومیږي چې ایمان ورڅخه نفي شوی دی او تل ورباندې ملائکې لعنت وایي.په یو بل حدیث شریف کې راځي.
عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «الْمَكْرُ وَالْخَدِيعَةُ وَالْخِيَانَةُ فِي النَّارِ».[٢٦]
ژباړه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه د نبي علیه السلام څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: فریب، دوکه او خیانت په اور کې دي. یعنې ددې صاحبان په اور کې دي.
شیخ الاسلام ابن حجر هیثمي رحمه الله په الزواجر کې لیکي:(فَتَأَمَّلْ ذَلِكَ أَيُّهَا الْمَاكِرُ الْمُخَادِعُ الْغَشَّاشُ الْآكِلُ أَمْوَالَ النَّاسِ بِتِلْكَ الْبُيُوعَاتِ الْبَاطِلَةِ وَالتِّجَارَاتِ الْفَاسِدَةِ، تَعْلَمْ أَنَّهُ لَا صَلَاةَ لَك وَلَا زَكَاةَ وَلَا صَوْمَ وَلَا حَجَّ كَمَا جَاءَ عَنْ الصَّادِقِ الْمَصْدُوقِ الَّذِي لَا يَنْطِقُ عَنْ الْهَوَى، وَلْيَتَأَمَّلْ الْغَشَّاشُ بِخُصُوصِهِ قَوْلَهُ «- صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا» يَعْلَمْ أَنَّ أَمْرَ الْغِشِّ عَظِيمٌ، وَأَنَّ عَاقِبَتَهُ وَخِيمَةٌ جِدًّا فَإِنَّهُ رُبَّمَا أَدَّتْ إلَى الْخُرُوجِ عَنْ الْإِسْلَامِ وَالْعِيَاذُ بِاَللَّهِ تَعَالَى، فَإِنَّ الْغَالِبَ أَنَّهُ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَا يَقُولُ لَيْسَ مِنَّا إلَّا فِي شَيْءٍ قَبِيحٍ جِدًّا يُؤَدِّي بِصَاحِبِهِ إلَى أَمْرٍ خَطِيرٍ وَيُخْشَى مِنْهُ الْكُفْرُ).[٢٧]

---

[٢٢] -وَجَاءَ هَذَا الْمَتْنُ مِنْ رِوَايَةِ بِضْعَةَ عَشَرَ صَحَابِيًّا. الزواجر عن اقتراف الكبائر (١/ ٣٩٥)

[٢٣] - سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (٣/ ٣٥٦)

[٢٤] - مسند أحمد ط الرسالة (٢٥/ ٣٩٥)، سنن ابن ماجه ت الأرنؤوط (٣/ ٣٥٧)

٢٥ - الزواجر عن اقتراف الكبائر (١/ ٣٩٦)

٢٦ - المستدرك للحاكم (٤/ ٦٥٠)، مسند البزار (١٦/ ٣٠٣)

٢٧ - الزواجر عن اقتراف الكبائر (١/ ٤٠١). الناشر: دار الفكر

ژباړه: نو سوچ او فکر وکړه مکار او دوکه کوونکیه ، خوړونکی د خلکو د مالونو په دغه ډول باطلو معاملو او فاسدو تجارتونو باندې ، پوهه شه! چې نه ستا لمونځ شته او نه ستا زکات شته او نه ستا روژه شته او نه ستا حج شته لکه څرنگه چې صادق المصدوق رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه چې د وحی څخه علاوه په بل څه نطق نکوي نقل دي. او دوکه کوونکی باید د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې قول کې فکر وکړي چې فرمايي:« مَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا»ددې څخه معلومیږي چې د دوکې او په مبیعه کې د عیب پټولو خبره ډیره لویه ده او ددې عاقبت ډیر خطرناک دی ؛ او ځینې وخت صاحب ددوکې او فریب العیاذبالله له اسلام څخه د وتلو سبب گرځي ؛ ځکه چې غالباً رسول الله صلی الله علیه وسلم دا جمله (لیس منا) نه وایې مگر په ډیر قبیح شي کې وایې چې صاحب یې خطرناک انجام ته رسوي او په داسې کس باندې د کفر ویره وي.

۳-د دوعاگانو نه قبلېدل: په راکړه ورکړه کې دوکه کول او د مبیعې عیب پټول حرام کسب دی او د خلکو مال په باطلو لارو خوړل دي او په باطلو لارو د خلکو د مالونو له خوړلو څخه منع کړی ده او د دوعاگانو د نه قبلېدو سبب گرځي. د الله تعالی د ناراضۍ او گناه سبب گرځي.الله تعالی فرمايي:(وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ).(۲۸)

ترجمه: او تاسې خپل مالونه په خپلو مینځو کې په نارواء توگه مه خورئ

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا، وَإِنَّ اللهَ أَمَرَ الْمُؤْمِنِينَ بِمَا أَمَرَ بِهِ الْمُرْسَلِينَ، فَقَالَ: {يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا، إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ} [المؤمنون: ٥١] وَقَالَ: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} [البقرة: ١٧٢] ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ، يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ، يَا رَبِّ، يَا رَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟».(۲۹) الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ} [البقرة: ١٧٢]

ثُمَّ ذَكَرَ الرَّجُلَ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ، يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ، يَا رَبِّ، يَا رَبِّ، وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ، وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ، وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ، وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ، فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَلِكَ؟».(۳۰)

ژباړه: د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای خلکو! بیشکه الله تعالی د هر عیب څخه پاک دی او نه قبلوي مگر پاکیزه او بیشکه الله تعالی مؤمنانو ته په هغه څه باندې امر کړی دی په کوم څه چې رسولانو ته امر کړی او داسې یې فرمایلي دي: يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا، إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ) المؤمنون:(٥١) او فرمایلي یې دي:(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ)البقرة:(١٧٢) بیا نبي علیه السلام د هغه شخص ذکر وکړ چې اوږد سفر وکړي، ویښتان یې گردجن وي او جسم یې هم گردجن وي (د مسافرۍ له وجې نه) اوږده کړي دواړه لاسونه آسمان ته (او داسې دعاء وکړي) چې ای زما ربه ! ای زما ربه ! (یعنې زما دا حاجت پوره کړې ، زما دا حاجت پوره کړې) حال داچې د هغه خوراک حرام وي او څښاک یې حرام وي او لباس یې حرام وي او تغذیه شوی وي په حرامو ، نو څرنگه به قبوله شي (دعاء) دداسې شخص؟

۴-د مال د واپس کیدو او مسترد کیدو امکان: کله چې اخیستونکی په مبیعه کې له داسې عیب څخه خبر شي چې د اخیستلو پر مهال پټ و، هغه شرعاً د خیار عیب حق واک لري او اخیستونکی حق لري چې:

---

۲۸- البقرة:( ۱۸۸)

۲۹ - صحیح مسلم (۲/ ۷۰۳)

۳۰ - صحیح مسلم (۲/ ۷۰۳)

سودا بېرته واپس کړي او خپلې بشپړې پیسې واخلي.

- د معاملې فسخ کېدل: د عیب ښکاره کېدل معامله له منځه وړي او د دواړو خواوو ترمنځ کړې موافقه باطله غوندې کوي.(هغه عیب چې د معاملې څخه مخکې موجود وو او د معاملې څخه وروسته ښکاره شو.)

۵- د خلکو اعتماد او ټولنیز اعتبار له منځه وړي:

کله چې خلک پوه شي چې یو سوداګر په معاملاتو کې دوکه کوي، د هغه په خبرو باور له لاسه ورکوي.

ممکن یو ځل د عیب په پټولو سره مال په لوړه بیه وپلوري، خو که حقیقت څرګند شي، پېرودونکي به ترې لرې شي او د هغه د دوکان، کاروبار او نوم اعتبار به زیانمن شي.اعتماد د کاروبار مهمه پانګه ده. پیسې کمېدای شي او بیا ترلاسه کېدای شي، خو د خلکو مات شوی اعتماد بېرته ترلاسه کول ډېر وخت او هڅې غواړي.

٦-د خلکو ترمنځ دښمني او شخړې پیدا کوي. د عیب پټول ډېر ځله د پېرودونکي او پلورونکي ترمنځ لانجې رامنځته کوي.

پېرودونکی چې وروسته د مال له عیب څخه خبر شي، د ځان غولول شوی احساس کوي؛ پلورونکی د پیسو د ساتلو هڅه کوي او دواړه لوري په شخړه اخته کېږي.  دا شخړې کله ناکله تر محکمې، د کورنیو ترمنځ د دښمنۍ او اوږدو حقوقي دعوو پورې رسېږي.

اسلام غواړي چې معاملې د رضایت، عدالت او روڼتیا پر بنسټ وي، نه د فریب، بدګومانۍ او دښمنۍ پر بنسټ.

۷- په آخرت کې به مفلس وي. د خلکو حقوق یوازې په توبه کولو نه ختمېږي؛ که د چا مال په ناحقه اخیستل شوی وي، د هغه حق هم باید تر وسه ادا شي.رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«مَنْ كَانَتْ لَهُ مَظْلَمَةٌ لِأَخِيهِ مِنْ عِرْضِهِ أَوْ شَيْءٍ فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهُ الْيَوْمَ قَبْلَ أَنْ لَا يَكُونَ دِينَارٌ وَلَا دِرْهَمٌ إِنْ كَانَ لَهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ مَظْلَمَتِهِ وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فَحُمِلَ عَلَيْهِ».[۳۱]

ژباړه: څوک چې د خپل ورور په عزت یا بل څه کې پر هغه ظلم کړی وي، نو نن دې ترې د حق د بښلو غوښتنه وکړي، مخکې له دې چې داسې ورځ راشي چې نه دینار وي او نه درهم.  که چیرې دده عمل صالح وي ، نو دده عمل صالح به دده د ظلم په اندازه واخیستل شي (او مظلوم ته به ورکړل شی) او که چیرې ده صالح عمل نه درلود ، نو د مظلوم بدي به راواخیستل شي او په  ظالم به بار شي.

له دې حدیث څخه معلومېږي چې د خلکو د حقوقو په اړه باید د دنیا په ژوند کې اقدام وشي او له خوړلو یې ډډه وشي؛ ځکه د آخرت حساب د پیسو په ورکړه نه، بلکې د الله تعالی په عدل او د بندګانو د حقونو په ادا کولو پورې تړلی دی.

**اقولي قولي هذا، استغفرالله لي ولكم ولسائر المسلمين**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته**

[۳۱] - صحیح البخاري ت (٦/ ٢٤١)